استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

انارگل خوستی یکشنبه ۰۸ دسامبر ۲۰۲۴

# د خوست په اړه لنده معلومات

خوست ولایت د افغانستان په سهیل ختیځ کې د مرکز کابل څخه د ۲۲۵ کیلومترو په واټن پروت یو سرحدي ولایت دی چې له پاکستان سره ۱۸٤ کیلومتره ګډه پوله لري.

د دغې پولې هاغه غاړه له شمالي وزیرستان څخه تر پاړه چناره او په دې غاړه کې د خوست ولایت له سپېرې ولسوالی د میر څپر څخه د ځاځی میدان ولسوالۍ تر ګورۍ تاڼي پورې غځېدلی مختلف قومونه مېشت دي، چې د خوست ختیځې، جنوب ختیځې او جنوبي سیمې سره نښلوي.

همدا راز د دې ولایت جنوب لویدیځ له پکتیکا چې له هغه سره (٤٨) کیلومتره سرحد، لویدیځ لوري له پکتیا ولایت سره چې (۹۰)کیلومتره ګډه پوله لري، دا ولایت (۱۲) اداري واحدونه (ولسوالۍ) او (۹۰٦)کلي په لاندې ډول سره لري:

دخوست ولایت مرکز(۱۸۳) اسمعیل خیل مندوزی (٦٦)، نادرشاه کوټ (٤٥), تني (۱۱٥), ګربز (٥٨), شمل دوه منده (۷۰), سپېره (٦۲), موسی خېل (۸۳), صبري (٦۳), باک (۲۲) , ځاځي میدان (۷٥) ,او علی شېر(٦٤)، کلی لري.

د خوست ولایت د وګړو شمېر د (۱۰۰۰۰۰۰)د یو میلیون څخه زیات او(٤۰۲۹) کیلومتره مربع چې د (٤۰۲۹۱۰,۸۷) هکتاره سره سمون خوري مساحت لري چې د ټول افغانستان (۱,۱٦۱)سلنه مساحت جوړوي او د بحر سطحې څخه (۱۱۸٥)متره لوړوالی لري.

د خوست ولایت غرنۍ سیمې په لویدیځ او جنوب لویدیځ برخو کې واقع چې دا غرونه په ځنګلونو او ونو پټ، چې ددې ځنګلونو زیات حجم په شمال لویدیځ او جنوب لویدیځ یعنې د نادرشاه کوټ، سپېرې، شمل دوه منده، قلندر، موسی خېلو او ځاځي میدان ولسوالیو کې لیدل کیږي، په دې ځنګلونو کې چارمغز او جلغوزیو ونې په زیاته پیمانه پیدا کیږی چې د خلکو په اقتصاد او تجارت باندې مثبته اغیزه لري او د دې ولایت د ځنګلونو ټول مساحت (۱۲۳٥۰۰) هکتاره چې(۳۰,٦٥) سلنه د ولایت ټول مساحت جوړوي.

د خوست ولايت مرکزي برخې اکثراً دښتې تشکیلوي چې (٦٥٤٨٦,٨٧)هکتاره مساحت لري او (١٤٩١١) هکتاره زراعتي ځمکه لري.

د ګړو د مېشت کېدو ساحه يې (١١٧٥٨,٨٦) هکتاره چې د خوست ولايت (٢,٩٢)سلنه احتوا کوي.

په عمومي ډول د خوست ولايت آب هوا د سپرلي، دوبي، او ژمي په موسم کې باراني او د دوبي په موسم کې د زيات لندبل درلودونکي وي چې د لندبل درجه کې د کال په اوږدو کې د (٤٠) فيصده څخه ټيټه نه ده او لوړ حد يې تر (٩٩) سلنه هم تثبيت شويده.

د اورښت اندازه يې په کال کې د (٤٦٠)نه تر(٦٨٠) ميلي مترو پورې رسيږي او د دې ولايت مرطوبه هوا د نباتاتو، ونو او بوټو د ودې او ددې ولايت د زرغونتيا لپاره ډېره ښه مناسبه او په زړه پورې ده.

د دې ولايت زراعتي محصولات غنم، جوار، پلي، وريجې، مې، لوبيا، مېوه جات، وچې مېوې لکه چارمغز او جلغوزي دي، همدا راز د مزري په نوم يو ډول بوټۍ چې دا بوټۍ د موسى خېلو، صبريو، على شېرو او ځاځي ميدان په ولسواليو کې په زياته پيمانه پيدا کيږي او د دې بوټو څخه پيزي ( بورياء) شکور، لاسي باد پکې، خولۍ پړي او د دانو څخه يې تسبيح جوړيږي چې د دې ولايت د عمده لاسي صنايعو څخه شمېرل کيږي.

خوست په ١٣٦٤کال کې د لويې ولسوالۍ څخه د دريمې درجې ولايت ته ارتقاء کړيده.